پوهاند م.ا. زیار

# له ژباړن ماشينه تر وينده ربوټه
# له ساينسي تر شعري ژبې

د ژباړې ماشين چې دادى، څه له پاسه نيمه روسته له کمپيوټر او ربوټر سره يوه هېښنده ستر بشپړتيايي پړاو ته راګډېږي. په دې کې اړنګ بړنګ نشته چې دژباړې ماشين په څېر دغه دوې پرمختللي الکترونيکي وسيلې هم د بشپړې انساني ژبې ځاى په هېڅ راز را خپلولاى نه شي، په نورو ټکو، د انساني مغزو او وژو(عصبو) هومره ، په خپلسري او خپلکاري ډول هغه تر سره کولاى نه شي، بلکې هرو مرو به وار له مخه پکې، د اړوندي علمي-تخنيکي څانګې-څانګوړې اړتياوړه بنسټيزه وييپانګه له يولړ پښوييزو- رغاو نيزو(ګرامرى-ساختارى) دويونو (قا عدو) سره ځاى پرځاى کړشوې اوسي. يوه بېلګه يې جاپاني ((ويند ربوټ)) دى چې د يوې توغول شوې سپوږمکۍ د الوت وکار بهير په اړه يې ځنې کومه پوښتنه کوله، له يوڅه لارغې (مکث) سره يې ورغبرګوله. ځکه ربوټ د ژبپوهانو په مرسته خوندي کړې ژبنۍ زېرمه سره شاربله راشاربله.

داهم څرګنده ده چې موږ انسانانو هم، هريوه خپله مورنۍ(ړومبنۍ) ژبه همداسې( په وړ کينه (۵-۶) کلنۍ کې) د کورني چاپېريال له غټانو څخه د پېښو له لارې مغزو ته سپارلې او راروسته موودو وش ورکړې او کره کړې ده، اوکله چې غواړو، يو څه پر ژبه را وړو او بل ته يې واورو يا وليکو، له هماغې زېرمې او دويو څخه کاراخلو.

خو له دې سره سره له ژباړې ماشین سره د ((ویند ربوت)) یو ګډ پرابلم شعري ادبي انځو رونه ور زیړمه کول او ځنې بېړته راخپستل دي. نو په دې لړ کې ((ژبني)) انځورونه ګړنې-څرګندنې (آیډیمونه-ایکسپریشنونه) هم لړو ډېرې ربړې ستونزې رامنځته کولای شي.
ساده څرګندنې په هره توګه، خوګړنې له یو څه زیاتو بدلویا انځوروزمه مانا وو سره، ورته ستونزې راولاړولای شي. له دې لامله د ژباړې په تړاو دکمپیوتر، او د ویندۍ په تړاو د ربو تر دبریالې ویندۍ لپاره په کارده،دواړه ډوله اد بي او ژبني توکي
پردودو(عادي)ژبنیو سېمبو لونو راواړول شي.
د ساري له مخې (لاس تر زنې) پرځای
هېښ(حیران) ورزیرمه کړو، په نو رو ټکو، هما غسې یوه ژبه ور وشیو چې په جوتپوهنو(مثبته علومو) کې کارول کېږي.
په دې توګه، دابه پېړۍ نیمه بله واخلي چې په لومړي ګام کې د ژبپوهانو په مر سته ګړ نې- څرګندنې د ویند ربوت د سهنې (هضم) جوګه شي او په دویم ګام کې د ادبپوهانو په همکارۍ ناپېیلې(نثري) اوبیا لوړه پېیلې (شعري) ژبه!